امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۰ الی ۱۵ قوس ۱۴۰۳

## شماره هشتاد و پنجم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د OHW موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رییس او سرپرست الحاج مولوی محمد علم عالمیار، د OHW موسسې مرستیال ډاکټر حکمت الله عثمانی سره وکتل او له یادې موسسې سره یې د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک کړې.

په دې ناسته کې دواړو لوریو د ژمی په موسم کې د زیانمنو شویو خلکو لپاره د مرستو رسولو، نورو اړوندو فعالیتونو او د دوامداره همکارۍ په اړه یې بحث وکړ او د پروژو په پلی کېدو کې یې د همغږۍ پر اهمیت ټینګار وکړ...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د GIS روزنیز پروګرام د دې ادارې او همکارو وزارتونو د تخنیکی کارکونکو لپاره ترسره کړ




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د آقاخان بنسټ په تخنیکی او مالي همکارۍ، د GIS روزنیز پروګرام د دې ادارې، د انرژۍ او اوبو وزارت، د فواید عامې وزارت، د ښار جوړونې او هستوګنې وزارت...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون پلي کولو په موخه غونډه ترسره کړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداری عمومی رئیس او سرپرست په مشرۍ، د عالیقدر امیرالمومنین د ۳۵۴/۱۶۲۴ ګڼې حکم له مخې په دې اداره کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر...

ادامه در صفحه۳

### له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې او د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیوالي مؤسیسې ترمنځ تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښوسره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې عمومی رئیس او سرپرست مولوی محمد عالم عالمیار د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیواله مؤسیسې درئیس حزب الرحمن سره د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د OHW موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک شوې





له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رییس او سرپرست الحاج مولوی محمد علم عالمیار، د OHW موسسې مرستیال ډاکټر حکمت الله عثمانی سره وکتل او له یادې موسسې سره یې د ګډو همکاریو دوه تفاهم نامې لاسلیک کړې.

په دې ناسته کې دواړو لوریو د ژمی په موسم کې د زیانمنو شویو خلکو لپاره د مرستو رسولو، نورو اړوندو فعالیتونو او د دوامداره همکارۍ په اړه یې بحث وکړ او د پروژو په پلی کېدو کې یې د همغږۍ پر اهمیت ټینګار وکړ.

لومړۍ تفاهم نامه: د ۷۳۷,۵۴۸ ډالرو په ارزښت، چې ۱۸۳۰ زیانمنو کورنیو ته په هلمند، سرپل او تخار ولایتونو کې په داسې ډول چې، ۷۲۰ کورنیو ته په هلمند، ۳۴۰ کورنیو ته په سرپل او ۷۷۰ کورنیو ته په تخار ولایت کې هرې کورنۍ ته د ۲۰۰ ډالرو په ارزښت د سون توکی، د ۷۴ ډالرو په ارزښت ژمنی البسې او د ۵۷ ډالرو په ارزښت 5 تختې کمپلې وېشل کېږي.

دویمه تفاهم نامه: د هرات ولایت په انجیل ولسوالی کې د ۹۳،۵۵۴ ډالرو په ارزښت ۷۵ تشنابونه، ۱۵۰ کورنیو ته 5 تختې کمپلې، ۵۰ کورنیو ته ۷۰ ډالره نغدی پیسې، ۱۵۰ کورنیو ته سولری برق سیستم او د ۷۵ کورنیو لپاره به د اوبو فلترونه چمتو کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د GIS روزنیز پروګرام د دې ادارې او همکارو وزارتونو د تخنیکی کارکونکو لپاره ترسره کړ




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د آقاخان بنسټ په تخنیکی او مالی همکارۍ، د GIS روزنیز پروګرام د دې ادارې، د انرژۍ او اوبو وزارت، د فواید عامې وزارت، د ښار جوړونې او هستوګنې وزارت، د هوا پېژندنې ادارې او د چاپیریال ساتنې ملی ادارې اړوند ۳۰ تخنیکی کارکونکو لپاره د دې ادارې په انګړ کې ترسره کړ.

په دې روزنیز پروګرام کې، مولوی محمد عابد نعمانی، د دې ادارې د کارکوونکو د چارو رئیس او قاری خوشحال زمانی د بیړنیو عملیاتو رئیس هم ګډون وکړ. د دې پروګرام د پرانستلو پر مهال مولوی نعمانی د زده‌کړو اهمیت او پر مسلکی کار یې د زده کړو پر اغیز ټینګار وکړ. هغه وویل چې په دې پروګرام کې ګډون د خلکو خدمت ګڼل کېږي او ګډونوال باید په منظم ډول په دې پروګرام کې برخه واخلی. د یادونې وړ ده چې دا پروګرام د دې ادارې او همکارو وزارتونو د کارکونکو د وړتیا لوړولو په موخه د GIS او اړوندو پروګرامونو په برخه کې د درې ورځو لپاره جوړ شوی او د محترم محمد الیاس له لوری وړاندې کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون پلي کولو په موخه غونډه ترسره کړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس او سرپرست په مشری، د عالیقدر امیرالمومنین د ۳۵۴/۱۶۲۴ ګڼې حکم له مخې په دې اداره کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون پلی کولو په موخه غونډه، د دعوت او ارشاد رئیس مولوی عبدالخالق عابد، د کارکوونکو چارو رئیس مولوی محمد عابد نعمانی، د مقام د دفتر رئیس مولوی فضل الباری جواد، امام مولوی محمد صادق او مدرس عبدالمنان طیب په شتون کې ترسره شوه.

غونډه د قرآن عظیم الشان په څو مبارکو آیتونو سره پیل شوه.

په دې غونډه کې په ښه توګه د یاد قانون د تنفیذ او د ادارې کارکوونکو ته د بیانولو په اړه بحث وشو او د خنډونو او ستونزو له پېژندنې وروسته د حل لارې موندلو لپاره د نظرونه تبادله وشوه.

غونډه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

## له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې او د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیوالي مؤسیسې ترمنځ تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښوسره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې عمومی رئیس او سرپرست مولوی محمد عالم عالمیار د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیواله مؤسیسې درئیس حزب الرحمن سره د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه.

له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې عمومی رئیس او سرپرست مولوی محمد عالم علمیار د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیواله مؤسیسې معاون ته ښه راغلاستووایه او زیاته یی کړه چی افغانان شل کاله جګړو ځپلی دی او په هره برخه کی چی همکاری ورسره کیږی باید زموږ او دمؤسیساتو لخوا ورسره وسی.

همداراز عالمیار صاحب زیاته کړل چی په هر ولایت کی دمؤسیساتو لخوا خلګو ته خدمات وړاندی کیږی باید میعاری او اساسی وی ترڅو خلګ ورڅخه استفاده وکړی.

د آسیا د ټولنیزو خدماتو نړیواله مؤسیسې رئیس حزب الرحمن دیادې ادارې دټول کاری ټیم څخه ځانګړی مننه وکړه او زیاته یې کړل چی تل یی زموږ سره همکاری کړی ده او موږ به هم تل همکاری ورسره کوو.

دیادولو وړه ده چی ۹۷۵۳۴۷ ډالرو په ارزښت د بامیان په مرکز کې او د یکاولنګ نمبر ۱ او د یکاولنګ نمبر ۲ په ولسوالیو کی د نقدو پیسو وېش چی د ۳۷۰۰ کورنیو لپاره به ۲۰۰ ډالره مرسته وویشل شی او د چې هرې کورنۍ ته به د پنځو میاشتو لپاره ۴۰ ډالر ورکړل شی ټوله ۷۴۰,۰۰۰ ډالره بودیجه ورته ځانګړی شویده.

۲- د یکاولنګ نمبر ۱ په ولسوالی کې د کار په بدل کې د پیسو ویش د یکاولنګ نمبر 1 په ولسوالۍ کې به ۲۰۰ کارګر د ۱۰ کلیو په کچه د طبیعی پیښو د خطرونو کمولو لپاره د ساختمانی پروژو (لکه د چک ډیمونو، ګبیونی دېوالونو او د اوبو راټولو سیستم) په جوړولو کې ګډون وکړی ټوله ۳۶,۲۵۹ ډالره بودیجه ورته ځانګړی شویده.

۳- د یکاولنګ په ولسوالی کې د خطرونو کمولو په اړه د پوهاوی پورګرام چی د یکاولنګ په ولسوالی کې به د طبیعی پیښو د خطرونو کمولو په اړه د ۵۰۰ کسانو لپاره د پوهاوی ورکشاپونه ترسره شی چی ټوله ۱۰۷۱ ډالره بودیجه ورته ځانګړی شوی ده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او همکارو ادارو ۳۰ تخنيکی کارکوونکو د GIS درې ورځنی روزنيز پروګرام له بشپړولو وروسته د فراغت سندونه ترلاسه کړل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او همکارو ادارو ۳۰ تخنيکی کارکوونکو د GIS درې ورځنی روزنيز پروګرام چې د هستوګنې لپاره د آقا خان بنسټ په همکارۍ د يادې ادارې په انګړ کې ترسره شوی و، په برياليتوب سره پای ته ورساوه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رييس او سرپرست محترم مولوی محمد علم عالميار په شتون کې يې د خپل فراغت سندونه ترلاسه کړل.

په دې موخه جوړې شوې غونډې ته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئيس او سرپرست، محترم الحاج مولوی محمد علم عالميار، وويل چې په هره اداره کې په هره برخه کې د مهارتونو ترلاسه کول اړين دی او دا ډول پروګرامونه ګټور دی او په راتلونکی کې هم بايد دغه ډول پروګرامونه دوام وکړی.

دغه راز، د دې غونډې په ترځ کې، د کارکوونکو د چارو رئيس الحاج مولوی محمد عابد نعمانی، د نړيوالو اړيکو رئيس مولوی عبدالرحمن رحمانی او د مقام د دفتر رئيس مولوی فضل الباری جواد هر يوه په خپل  وار سره د دې پروګرام د ترسره کولو په برخه کې د هستوګنې لپاره د آقا خان بنسټ له همکارۍ مننه وکړه او د افغانستان خلکو ته يې د دې بنسټ د نورو خدماتو ستاينه وکړه او د پوهې اهميت يې روښانه کړ. هغوی وويل چې تقوا او پوهه د انسانيت د غوره‌والی معيار دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AFV موسسې تر منځ د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه




د بغلان او هرات ولايتونو سيلاب او زلزله ځپلو کورنيو لپاره د ژمنيو مرستو د برابرولو په موخه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رييس او سرپرست الحاج مولوی محمد علم عالميار او د افغان ښځو بنياد د پروګرامونو د همغږۍ مسوول عبدالجبار يوسفی ترمنځ د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه.

دا تفاهم نامه د بغلان ولايت سيلاب ځپلو او د هرات ولايت زلزله ځپلو ته د ژمی مرستو رسولو په موخه لاسليک شوه.

د دې تفاهم‌نامې له مخې، د AFV موسسه به د ۲۰۴,۴۳۵ ډالرو په ارزښت د سيلابونو او زلزلې له امله زيانمنو ۱۵۰۰ کورنيو لپاره چې له دې جملې، ۱۰۰۰ سيلاب ځپلو کورنيو ته په بغلان ولايت کې او ۵۰۰ زلزله ځپلو کورنيو ته په هرات ولايت کې مرستې وېشل کېږی. او هرې کورنۍ ته به د ۱۲۰ ډالرو په ارزښت درې تختې کمپلې، شپږ جوړه بوټان، يوه تخته ترپال، جرابې، ځان پاک، کمپلې، ژمنۍ خولۍ، دستکشې او يو بيک ووېشل شی.

## د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۳۵ زیانمنو او بېوزلو کورنیو سره خوراکي مرستې وکړې



د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د افغان ماشومانو لپاره د جرمنی مرستې موسسې په مالي ملاتړ، په یاد ولایت کې ۲۳۵ زیانمنو او بېوزلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

د مرستو د وېش پرمهال د یاد ریاست رئیس او د موسسې استازی هم شتون درلود او هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیټره غوړي، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای، ۵ کیلو لوبیا او ۷ کیلو وریجې ووېشل شوې.

ورته مهال له مرستو برخمنو له یاد ریاست او موسسې څخه مننه او خوښي څرګنده کړه او د لا زیاتو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست د ماین پاکۍ پلي کونکو موسسو د معلوماتو بانک د مسوولینو لپاره د IMSMA او GIS روزنیز کورس ترسره کړ



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست تېره اوونۍ د ماین پاکۍ د پلي کوونکو مؤسسو د معلوماتو بانک مسؤلینو لپاره د IMSMA او GIS پنځه ورځنی روزنیز کورس د یاد ریاست د مسؤلینو په حضور کې ترسره کړ.

د دې روزنیز پروګرام موخه د ماین پاکۍ د پلي کوونکو مؤسسو د معلوماتو بانک د مسؤلینو ظرفیت لوړونه او د GIS او IMSMA ټکنالوژۍ د وسیلو څخه په ښه توګه ګټه اخیستنه وه، ترڅو اړوند فعالیتونه لا ډېر اغېزمن کړي او ټمه کېږي چې دا پروګرام به د ماین پاکۍ په بهیر او د معلوماتو په مدیریت کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي.

## د بامیان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۰۷۷ زیانمنو کورنیو سره نغدي مرستې وکړې



د بامیان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د CRS مؤسسې په مالي ملاتړ او د یادې مؤسسې او له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ترمنځ د هوکړې لیک پر بنسټ، د بامیان په مرکز او یکاولنګ ولسوالۍ کې ۱۰۷۷ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

دغه مرستې د افغان ټولنو د انعطاف د پیاوړتیا لپاره، د طبیعي سرچینو د ښه مدیریت او د اوبو د حوضو د بیا رغونې د پروژې په چوکاټ کې ورکړل شوې دي، چې هرې کورنۍ ته د غړو د شمېر له مخې مرسته ورکړل شوه. د کورنۍ هر غړي ته ۱,۲۴۲ افغانۍ (معادل ۱۷.۶۳ ډالر) ورکړل شوې.

په ټوله کې، ۸ میلیونه او ۶۱۶ زره او ۵۱۹ افغانۍ ۶۸۹۳ کسانو ته ووېشل شوې، او هرې کورنۍ د خپلو غړو د شمېر په تناسب بېلابېل مقدار مرسته ترلاسه کړه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کابل  په ښار کې د ۶۷۱ کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ژغورنې نړیوالې کمېټې IRC په  مالي ملاتړ، د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د پېښو له امله ۶۷۱ زیانمنو اړمنو کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ  پیل کړه.

په دې پروسه کې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس الحاج مولوی نجیب الله انوری، د IRC موسسې څخه د مننې او قدردانۍ په ترځ کې وویل: نن ورځ له سروې وروسته، ۶۷۱ کورنیو هرې کورنۍ ته د ژمی د سون توکو او جامو پېرلو لپاره ۵۴۰۰ افغانۍ نغدې پیسې وویشل شی.

مولوی صاحب انوری زیاته کړه چې د مرستو وېش له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې او د اسلامی امارت د قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې ترسره کېږی. هغه د IRC موسسې څخه د مننې ترڅنګ، له ټولو موسسو څخه غوښتنه وکړه چې خپلې مرستې زیاتې او دوامداره کړی، او ټینګار یې وکړ چې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اسلامی امارت د قوانینو سره سم د همکاریو لپاره چمتو دی.

په پای کې، د مرستو اخیستونکو کورنیو د IRC موسسې او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له دې ګام څخه مننه او خوښی څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۸۷ خانواده آسیب دیده مساعدت نقدی و غیر خوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت سازمان بین المللی مهاجرت (IOM)، برای ۸۷ خانواده متضرر ناشی از بارندگی‌ها، آبخیزی دریای آمو و خانواده های عودت کننده، بعد از سروی کمک های نقدی و غیر خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه برای هر خانواده مبلغ ۱۷۲۵۰ افغانی پول نقد و یک بسته البسه زمستانی توزیع گردید.

## جلسه نوبتی کمیته تخنیکی دایمی جلوگیری از آتش سوزی در مقر اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تدویر یافت

کمیته تخنیکی دایمی جلوگیری از آتش سوزی، تحت ریاست الحاج مولوی محمد علم عالمیار، رئیس عمومی مالی و اداری و سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با اشتراک نماینده‌گان وزارت های مالیه، امور داخله، شاروالی کابل، اداره تنظیم نفت و گاز و سایر اعضای کمیته پیرامون اتخاذ تدابیر وقایوی برای جلوگیری از آتش سوزی در مراکز تجارتی، رهایشی و پمپ استیشن‌ها در مقر این اداره برگزار شد.

این جلسه با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز شد.

در این جلسه روی پیشرفت کار، چگونگی تطبیق معیار های ایمنی برای جلوگیری از آتش سوزی در مراکز تجارتی و پمپ استیشن‌های نفت و آغاز دوباره کار تیم‌های سروی در مراکز تجارتی بحث گردید.

در اخیر جلسه فیصله شد تا تمام ادارات سکتوری در بخش جلوگیری از آتش سوزی در روزهای یک‌شنبه و سه‌شنبه در هفته باید سروی پمپ استیشن‌ها را آغاز نموده و گزارش آن به مقام عالی معاونیت اقتصادی ا.ا.ا ارائه گردد.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۵ کاریګرو ته د کار په بدل کې نغدي پیسې ووېشلې




د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اسلامیک ریلیف موسسې په مالي ملاتړ، هغو ۳۰۵ کاریګرو ته چې په ډنډۍ غوری ولسوالۍ کې یې د ګورګن کانال د پاکولو چارې ترسره کړې د کار له بشپړېدو وروسته هغوی ته نغدي پیسې ووېشلې.

د پاک کاری چارو ترسره کوونکی سیمه ییز اوسېدونکی وو او د هر کس لپاره د یوې ورځې کار په بدل کې ۴۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وې او ۲۱ ورځې کار یې ترسره کړ او هر کاریګر ته د ۲۱ ورځو کار په بدل کې ۸۴۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۲،۵۰۸،۶۴۵ افغانۍ ووېشل شوې.

ورته مهال د سیمې اوسېدونکو له یاد ریاست او موسسې څخه په وخت سره د دې پروژې د چارو بشپړولو په پار مننه او خوښی څرګنده کړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په یاد ولایت کې د سیلابونو له امله ۳۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې او تثبیت وروسته 6 قلمه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د یاد ریاست، د ولایت مقام او کډوالو چارو ریاست مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۲ جوړه څپلکې، ۵ لیتره غوړی، ۶ تختې کمپلې او ۱ پلاستیکی سطل ووېشل شول.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۶۳ کورنیو سره نغدی مرستې وکړې




د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالي همکارۍ، په دشت ارچی ولسوالۍ کې ۱۶۳ مستحقو کورنیو ته د ژمی لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

یاد شمېر کورنۍ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سره د هوکړه لیک له مخې سروې او ثبت شوې وې او هرې کورنۍ ته ۲۲۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

په دې لړۍ کې په مجموعی توګه ۳،۶۶۷،۵۰۰ افغانۍ نغدی پیسې د یاد ریاست، د اقتصاد او د ولسوالۍ د استازو په شتون کې ووېشل شوې.

## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۸ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په همکارۍ، د یاد ولایت په چخانسور، چهاربرجک او دلارام ولسوالیو او مرکز زرنج ښار کې د سېلابونو له امله ۱۱۸ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د الحاج مولوی محمد قاسم د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس، د اقتصاد رییس او د ولایت مقام استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۷۲۵۰ افغانۍ او یو کارتن ژمنۍ البسه چې (۱۶) شپاړس قلمه توکي پکښې شامل وه ووېشل شوه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته د کورونو د ترمیم لپاره نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، په کوزکونړ او بهسود ولسوالیو او مرکز جلال آباد ښار کی اړوند ۹۲ کورنیو ته چې د سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوی وو د کورونو د ترمیم لپاره یاد شمېر کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست او موسسې استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته د لومړی قسط له ۱۳۷۵۰ نه تر ۲۱۰۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۱،۶۳۹،۳۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده چې په راتلونکې کې به هم دغه ډول مرستې دوام وکړی.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ترکیه جرمنی ستلپ بنسټ په مالی ملاتړ، د وروستیو سېلابونو له امله ۵۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۴.۵ کیلو وریجې، ۱۰ لیتره غوړی، ۳.۵ کیلو لوبیا، ۲ کیلو ماش، ۲ کیلو بوره، ۲ قطی رب، ۴ پاکټه مکرونی، ۱ کیلو چای، ۲ کیلو مالګه او ۲ کلچې صابون ووېشل شول.
د یادونې وړ ده چې په راتلونکو ورځو کې به د یاد ولایت په شولګره ولسوالۍ کې د ورستیو سېلابونو له امله ۹۷ زیانمنو کورنیو ته هم مرستې ووېشل شی.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست 97 زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ترکیه جرمنی ستلپ بنسټ په مالي ملاتړ، په شولګره ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو له امله ۹۷ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۴.۵ کیلو وریجې، ۱۰ لیتره غوړي، ۳.۵ کیلو لوبیا، ۲ کیلو مُمۍ، ۲ کیلو بوره، ۲ قطی رب، ۴ پاکټه مکروني، ۱ کیلو چای، ۲ کیلو مالګه او ۲ کلچې صابون ووېشل شول.

## د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۸ اړمنو او مستحقو کورنیو سره خوراکي او غیرخوراکي مرستې وکړې




د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, ۱۸ اړمنو او مستحقو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېټې د پلاوي په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې او ۱۸ قلمه توکي لرونکي د ژمي البسې کېټ ووېشل شو.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د محترم مقام په لارښوونه, د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, په یاد ولایت کې د طبیعي پېښو له امله ۲۵۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس محترم مولوی نثار احمد نجات په شتون کې هرې کورنۍ ۵۱ کیلو اوړه, ۵۱ کیلو وریجې او ۵ لیتره غوړي ووېشل شول.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتیډ موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په خان آباد، دشت ارچي او علی آباد ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۹۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۰،۴۴۵ افغانۍ ووېشل شوې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ اجباری راستانه شویو کډوالو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM موسسې په مالي همکارۍ، د یاد ولایت مرکز او بالابلوک ولسوالۍ کې په اجباری توګه ۳۰۰ راستانه شویو کډوالو کورنیو ته د سروې او تثبیت له بهیر وروسته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رئیس الحاج مولوی محمد اسرائیل سیار او د موسسې استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۷۲۰۰ افغانۍ او یو ژمنۍ کېټ ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۲ زیانمنو کورنیو سره خوراکی مرستې وکړې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د RRDPO موسسې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د طبیعی پېښو له امله ۱۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی مرستې ووېشلې.
یاد شمېر کورنۍ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د WFP موسسې لخوا سروې او مستحقې پېژندل شوی وې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه, ۱۸.۵ کیلو غوړي, ۲۵ کیلو دال, ۲ کیلو مالګه, انرژی لرونکی بسکېټ او د ۵ کلنو ماشومانو او مېندو لپاره مغذی مواد ووېشل شول.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲۰۶ کورنیو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په شکردره ولسوالۍ کې د ۲۰۶ زیانمنو او اړمنو کورنیو لپاره د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.

په دې پروګرام کې چې د یاد ریاست رئیس مولوی نجیب الله انوری په مشرۍ ترسره شو، هرې کورنۍ ته یوه بوری اوړه ۵۰ کیلویي، یوه بوری وریجې ۲۵ کیلویي، ۱۰ قلمه توکي لرونکې عربي کېټ، ۱۴ قلمه توکي لرونکي یو روغتیایي کېټ او درې تختې کمپلې ووېشل شوې.

مولوی انوری په خپلو خبرو کې ټینګار وکړ چې دا د زیانمنو مسلم حق دی.

نوموړي له زیانمنو څخه د امارت د ملاتړ په یادونې سره ووېل چې په راتلونکې کې هم د خلکو لپاره د مرستو د وېش پروګرام شتون لري.

په دې پروګرام کې له مسؤلینو څخه قدردانی وشوه او له مرستو برخه منو د خوښۍ په څرګندولو سره د اسلامی امارت د نظام د بقا لپاره دعا وکړه.




## امضای تفاهمنامه همکاری‌های مشترک بین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه CRS





الحاج مولوی محمد علم عالمیار رئیس عمومی مالی و اداری و سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با احمد فرید صمیمی رئیس بخش کابل موسسه خیریه کاتولیک (CRS) دیدار و تفاهم نامه همکاری‌های مشترک را با این موسسه امضاء کرد.

در این جلسه، دو طرف درباره همکاری‌های مشترک در زمینه کمک‌رسانی به آسیب‌دیدگان در فصل زمستان و سایر فعالیت ها بحث و تبادل نظر کرده و بر هماهنگی در اجرای پروژه‌ها تأکید کردند.

بر اساس این تفاهم‌نامه، موسسه خیریه کاتولیک مبلغ ۵۷۷,۷۳۱ دالر برای کمک به ۹۰۴ خانواده (شامل ۶۳۲۸ نفر) در ولسوالی اشترلی ولایت دایکندی اختصاص داده است. طوری‌که برای هر فرد مبلغ ۶۶.۸۵۷ دالر یا معادل آن به افغانی درنظر گرفته شده که برای هر خانواده هفت‌نفره به طور متوسط ۴۶۸ دالر برای تأمین نیازهای اساسی در مدت سه ماه توزیع خواهد شد.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸ سېلاب ځپلو کورنیو ته د کورونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اسلامیک ریلیف موسسې ترمنځ د هوکړه لیک پر بنسټ, د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ, په ارغستان ولسوالۍ کې هغه ۸ کورنۍ چې د سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوی وو یاد شمېر کورنیو ته د کورونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍکې د یاد ریاست مسؤلینو او د موسسې استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۶۷۶۰۰ افغانۍ او په مجموعي توګه ۵۴۰۸۰۰ افغانۍ نغدي پیسې وویشل شوې.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰۰ کسانو ته د کار په بدل کې نغدي پیسې وویشلې



د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د لوړې پر وړاندې د مبارزې موسسې په مالي ملاتړ, ۱۲۰۰ کاریګرو ته چې له یادې جملې ۵۴۴ کسانو ته په درایم ولسوالۍ کې او ۶۵۶ کسانو ته په یمګان ولسوالۍ کې د چکډیم او سړک د ترمیم کار ترسره کولو په بدل کې د دویم قسط نغدي پیسې وویشلې.

د یادونې وړ ده چې په دې پروګرام کې ۱۲۰ ښځې هم د کیبون باقي لپاره شاملې وې چې د محرم سره یې د ۱۰ ورځو کار په بدل ۸۰۰۰ افغانۍ او نورو کاریګرو ته د ۱۰ ورځو کار په بدل کې ۴۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې چې په مجموعي توګه ۵۲۸۰۰۰۰ (۵ میلیونه او ۲۸۰ زره) افغانۍ وویشل شوې.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره خوراکي او غیرخوراکي مرستې وکړې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۲۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د محترم مقام په لارښوونه ترسره شوې او هرې کورنۍ ته ۷۰ کیلو وریجې، یو حفظ الصحی کېټ، ۳ تختې کمپلې او د ماشومانو جامې وویشل شوې.

مولوی نثار احمد نجات د یاد ریاست رئیس وویل چې دا مرستې د هغو خلکو لپاره دی چې د سختو اقتصادی ستونزو سره مخ دی او له سروې وروسته هغوی ته وویشل شوې. نوموړی همدارنګه ټینګار وکړ چې د امارتی ادارو او نړیوالو سازمانونو سره په همغږۍ به د اړمنو لپاره مرستې دوام وکړی.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۵ کسانو ته د کار په بدل کې نغدي پیسې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ، ۵۵ کسانو ته د یاد ولایت حصارک ولسوالۍ په معین خېل کلي کې د یو کانال جوړولو چارو له بشپړولو وروسته نغدي پیسې ووېشل شوې.

په دې لړۍ کې یاد شمېر کاریګرو 26 ورځې کار ترسره کړ او هر کاریګر ته له ۳۵۰ نه تر ۱۶۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۵۱۷۹۵۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې یاد ریاست د دغه کانال له چارو په دوامداره توګه څارنه کړې او کیفیت ته یې په جدی توګه پاملرنه شوې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو بارانونو له امله ۱۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د RRDPO موسسې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو بارانونو له امله ۱۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.




یادې کورنۍ د مهترلام ښآر او الینګار ولسوالۍ اړوند دی او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د خوراک نړیوال سازمان(WFP) له لوری مستحقې پېژندل شوی وې او هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۵ کیلو غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، انرژی لرونکی بسکېټ او د مېندو او ماشومانو لپاره مغذی مواد ووېشل شول.

## د بدخشان ولایت اړوند سیمه کې یو استنادی دیوال پرانیست او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د بدخشان ولایت اړوند څلورمې ناحیې په چته سیمې کې د یو استنادی دیوال جوړولو چارې بشپړې او رسمآ پرانیست او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، د دې استنادی دیوال چارې د جی پی نړیوالې موسسې په مالی همکارۍ د ۲۲ زره ډالرو په ارزښت پیل شوې وې.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس مولوی محمد اکرم اکبری، د یادی پروژې د ګټې اخیستنې په مراسمو کې چې د ځایی چارواکو او خلکو په شتون کې ترسره شول، د ګلوبل پارټنر موسسې له همکارۍ څخه د مننې ترڅنګ وویل: دغه دیوال د یادې اداري تر څارنې لاندې جوړ شوی چې کیفیت ته یې جدی پاملرنه شوې. هغه زیاته کړه چې د دې ډول پروژو په پلی کېدو سره به د سیلابونو له امله د زیانونو او تلفاتو کچه راټیټه شی او له موسسو یې وغوښتل چې د وقایوی پروژو په پلی کولو کې همکاری وکړی.

د یادونې وړ ده چې دغه استنادی دیوال ۱۴۴ متر مکعب اوږدوالی لری چې د جوړولو چارې یې نن بشپړې شوې او د څلورمې ناحیې چته او ګنې نورې سیمې د سیلابونو له خطرونو څخه خوندی شوې.

همدارنګه، یادې موسسې په همدې ولایت کې ۶۰۰ متره مربع سړک هم سنګفرش کړی دی.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست آمادګۍ ریاست ۱۳۶ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



په جوزجان ولایت کې د سېلابونو له امله ۱۳۶ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې.
دغه مرستې د IOM موسسې په مالي ملاتړ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کډوالو چارو ریاست له لوري په یاد ولایت کې ترسره شوې او د هرې کورنۍ لپاره ۱۷،۲۵۰ افغانۍ او د ژمي جامو یو کېټ په پام کې نیول شوی و.
له دې جملې څخه ۱۲۲ راستانه شوی او ۱۴ سېلاب ځپلې کورنۍ د ټاکل شوی پلاوی له لوري سروې او مستحقې پېژندل شوی وې.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۴ شهیدانو ورثه او ټپیانو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې د ترافیکي پېښې له امله د ۲ شهیدانو ورثه او ۲ ټپیانو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۱۰ لیتره غوړي، یو کیلو چای او یو روغتیایي کېټ ووېشل شول.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳ کورنیو ته د حفظ الصحي کېټونه وویشل



د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هایسو دفتر په همکارۍ د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنو شویو ۱۳ کورنیو ته د حفظ الصحي کټونه وویشل.
په دې کېټ کې ۹ قلمه توکي لکه، پلاستیکي سطل، د اوبو ډرم، لوټه، صابون، د غاښونو کریم، د غاښونو برس، د مېرمنو حفظ الصحي کېټ، نوکان پرې کونکي او دستمال شامل دي.
دغه مرستې په انفرادي ډول د زیانمنو شویو کورنیو کورونو ته رسول شوې او له پېښو سره د مبارزې ریاست د استازو په حضور کې وویشل شوې.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ACTED موسسې په ملاتړ، د شولګرې ولسوالۍ په تاجک، ایل تن او جر محمد کریم کلیو کې د سېلابونو له امله ۹۷ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د ۳۰۰ ډالرو معادل ۲۰،۱۵۰ افغانۍ ترلاسه کړې.
له دې مخکې هم یادو کورنیو د نړیوالو سازمانونو له لوری خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترلاسه کړې وې.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتېډ موسسې په مالی ملاتړ، په صیاد ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۵۰ زیانمنو شویو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ۷۷۵,۱۴ افغانۍ ترلاسه کړې چې په مجموع کې ۷۵۰,۷۳۸ افغانۍ کېږي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۸۳ مستحقو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، په جلال آباد ښار کې ۲۸۳ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او IRC موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې او د سروې د پراوونو له بشپړېدو وروسته ترسره شوې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموعی توګه ۱۰۰,۷۶۴ افغانۍ د یاد ریاست مسؤلینو او د موسسې استازی په شتون کې ووېشل شوې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د سېلاب له امله ویجاړ شوی پل د بیا رغونې کار پیل کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري سرپرست د الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادگۍ ریاست، د الینګار ولسوالۍ د منګو کلي د سېلاب له امله ویجاړ شوی پل د بیا رغونې لپاره ۱۰۰,۰۰۰ افغانۍ ځانګړې کړې دي.

یاده مرسته د دې ریاست سرپرست انجنیر عبیدالله الکوزی له لوري د پل د بیا رغونې کمېټې ته وسپارل شوه.

یاد پل چې د موسمي سېلابونو له امله په بشپړ ډول ویجاړ شوی و، د خلکو په ملاتړ د بیا رغونې چارې يې پیل شوې دي، خو د امکاناتو د نشتوالي له امله يې کارونه په ټکنۍ توګه پر مخ روان دي.

د سیمې خلکو له دې مرستې خوښي څرګنده کړې او له دولتي ادارو او داخلي او نړیوالو سازمانونو څخه يې د پل بیارغونې او استنادي والونو د جوړولو غوښتنه وکړه.'

## د فاریاب له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۳ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د اکتېډ مؤسسې په ملاتړ، د وروستیو سېلابونو له امله له ۱۳ زیانمنو کورنیو سره نغدي مرستې وکړې.

په دې بهیر کې، د سیمه ییزو ادارو د استازو په حضور کې هرې کورنۍ ته ۲۰۱۵۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له ۱۴ سېلاب ځپلو کورنیو سره ۹,۵۱,۲۳۰ افغانۍ نغدي مرسته وکړه



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادگۍ ریاست د AKAH مؤسسې په مالي ملاتړ، د دهنه غوری ولسوالۍ ۱۴ هغو کورنیو ته چې د سېلابونو له امله يې کورونه زیانمن شوي و، د خپلو کورونو د بیا رغونې لپاره هرې کورنۍ ته ۶۷,۹۴۵ افغانۍ نغدي مرسته ووېشله.

دغه مرستې چې ټولټال ۹,۵۱,۲۳۰ افغانۍ جوړېدې، د یاد ریاست، د ولسوالۍ او د مؤسسې استازو په حضور کې وویشل شوې. ټاکل شوې ده چې د بیا رغونې د کار د پرمختګ په اساس به پاتې قسطونه هم ورکړل شي.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د خوښۍ څرګندونه وکړه او له دې ګام څخه يې مننه وکړه.